AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۳/۰۹

# ښځو نړیواله ورځ

خیر د ابلیس په نیرنګونو به خبره نه وه
ښځه وه؛ مور د پیغمبر که پیغمبره نه وه

آدم که ځومره و اشرف تولنه نه جوړېده
دنیا به ورانه وه حوا ښه ده چي نره نه وه

چي دي د زړه نه خپله نه توکېده؛ تا کوله
ځکه ستا مینه هم جانانه جادو ګره نه وه

د آللو وړه سندره ستا په سوي اواز
موري له دي ماته خوږه بله سندره نه وه

د مور په عقل ځرځېده د سکندر پاچاهي
که په عمل کي هم "باوره "سکندره نه وه

ښځو نړیواله ورځ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ